**بسم الله الرحمن الرحيم**

## له حديث شريف سره

## د ولي الأمر لقب

مسلم په خپل صحیح کې روایت کړی دی:

**عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "خِيَارُ أَئِمَّتِكُمْ الَّذِينَ تُحِبُّونَهُمْ وَيُحِبُّونَكُمْ وَيُصَلُّونَ عَلَيْكُمْ وَتُصَلُّونَ عَلَيْهِمْ وَشِرَارُ أَئِمَّتِكُمْ الَّذِينَ تُبْغِضُونَهُمْ وَيُبْغِضُونَكُمْ وَتَلْعَنُونَهُمْ وَيَلْعَنُونَكُمْ قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا نُنَابِذُهُمْ بِالسَّيْفِ فَقَالَ: لَا مَا أَقَامُوا فِيكُمْ الصَّلَاةَ وَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْ وُلَاتِكُمْ شَيْئًا تَكْرَهُونَهُ فَاكْرَهُوا عَمَلَهُ وَلَا تَنْزِعُوا يَدًا مِنْ طَاعَةٍ".**

*له عوف بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایلي یې دي: «ستاسو غوره امامان (حاکمان) هغه دي چې تاسو ورسره محبت لرئ او هغوی هم له تاسو سره محبت لري، هغوی تاسو ته دعا کوي او تاسو هغوی ته دعا کوئ او ستاسو شریر او ناوړه امامان هغه دي چې تاسو ورسره بغض (کینه او دښمني) کوئ او هغوی هم له تاسو سره بغض لري او تاسو پر هغوی لعنت وایئ او هغوی پر تاسو لعنت وایي: اصحابو وویل: اې د الله رسوله! ایا د دوی پر وړاندې توره پورته نه کړو؟ ویې فرمایل: نه، تر هغه چې په تاسو کې لمونځ اقامه کوي او کله چې مو له خپلو چارواکو داسې څه ولیدل چې تاسو یې ناوړه بولئ، نو عمل یې ناوړه وبولئ خو له اطاعت څخه یې لاس مه اخلئ.»*

نووي د مسلم په شرح کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې قول: «**خِيَار أَئِمَّتِكُمْ الَّذِينَ تُحِبُّونَهُمْ وَيُحِبُّونَكُمْ وَيُصَلُّونَ عَلَيْكُمْ وَتُصَلُّونَ عَلَيْهِمْ**» په اړه وایي چې دلته په «**يُصَلُّونَ**» او «**تُصَلُّونَ**» کې صلاة د دعا په معنا دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حدیث کې د خلافت په دولت کې، حاکم امام نومولی دی.

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نور صحیح روایتونه هم شته چې هغه صلی الله علیه وسلم حاکم د خلیفه په لقب هم نومولی دی. لکه هغه حدیث چې مسلم په خپل صحیح کې له ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت کړی، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ فَاقْتُلُوا الْآخَرَ مِنْهُمَا**

***ژباړه:*** *کله چې په یوه وخت کې د دوو خلیفه ګانو لپاره بیعت واخیستل شي، نو دویم یې ووژنئ.*

دغه راز اصحابو د حاکم لپاره د امیر المؤمنین لقب د غوره کولو پر جواز اجماع کړې ده. حاکم په خپل مستدرک کې له ابن شهاب زهری څخه روایت کړی دی چې عمر بن عبد العزیز له ابو بکر بن سلیمان بن ابي حثمه څخه وپوښتل: ... چې پخوا د ابو بکر رضي الله عنه په عصر کې لیکل کېدل: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلیفه له لوري، بیا د عمر رضي الله عنه د دور په لومړیو کې لیکل کېدل: د ابو بکر د خلیفه له لوري، نو د لومړي وار لپاره چا ولیکل چې د امیر المؤمنین له لوري؟ هغه وویل: شفاء ـ چې له لومړیو مهاجرینو ښځو څخه ده ـ ما ته روایت کړی چې عمر رضي الله عنه په عراق کې خپل عامل ته ولیکل چې دوه تنه چابک اشخاص راته رالولېږه، تر څو د عراق او د عراق د خلکو حال او احوال ترې وپوښتم، د عراق عامل د بلید بن ربیعه او عدی بن حاتم

په نومونو دوه تنه ورولېږل، کله چې دوی مدینې ته ورسېدل، خپل اوښان يې د مسجد په صحن کې پرې ايستل او دوی مسجد ته ننوتل، هلته له عمرو بن عاص رضي الله عنه سره مخ شول، هغه ته يې وويل: اې عمرو! له امير المؤمنين سره زموږ لپاره د ملاقات اجازه واخله، هغه وويل: پر الله سوګند چې تاسو د هغه لپاره مناسب او ښه نوم غوره کړ، موږ مؤمنان يو او هغه مو امير دی. عمرو ابن عاص رضي الله عنه له ځنډ پرته د عمر رضي الله عنه خوا ته ورغی او ورته ويې ويل: السلام عليکم اې امير المؤمنين! عمر رضي الله عنه ورته وويل: په دې نامه کې تا ته څه ښکارې اې عمرو! الله پوهېږي چې ته څه وايې! عمرو ابن عاص رضي الله عنه وويل: بليد بن ربيعه او عدي بن حاتم راغلل، خپل اوښان يې د مسجد په صحن کې پرې ايستل، بيا دننه زما خوا ته راغلل او راته ويې ويل: اې عمرو! له امير المؤمنين سره زموږ لپاره د ملاقات اجازه واخله، پر الله سوګند دوی ستا لپاره ډېر مناسب نوم غوره کړ، موږ مؤمنان يو او ته مو امير يې. نو کاتب بيا له همغې ورځې د «د امير المؤمنين له لوري» ليکل پيل کړل. او شفاء د ابو بکر بن سليمان انا (نيا) وه. تر دې وروسته په همدې توګه د امير المؤمنين نوم د صحابه‌و په وخت کې او هم تر هغوی وروسته د خلفاوو لپاره کارېده. د دې روايت پر اساس، تر دې وروسته تل عمر رضی الله عنه ته د اصحابو په مخکې امير المؤمنين ويل کېده چې هغوی ليده او اورېده، خو هيڅ صحابي هم له دې سره مخالفت نه دی کړی، نو په دې توګه دا د اصحابو اجماع ده.

له تېر بحث څخه څرګندېږي چې که د مسلمانانو حاکم د امام، خليفه او امير المؤمنين په لقبونو ونومول شي، دا سم کار دی. ځکه له دغو لقبونو څخه هر يو يې شرعي دليل لري چې پر صحت يې دلالت کوي. خو زما لپاره د خليفه لقب تر ټولو خوښ او زړه ته نږدې لقب دی، ځکه دا لقب موږ ته زموږ تېر تاريخ رایادوي، چې په هغه سره د ويار، عزت او حيثيت احساس کوو او موږ هڅوي چې خليفه بېرته راوګرځوو، دا هغه لقب دی چې تل د الله سبحانه و تعالی د دښمنانو په زړونو کې وېره او رعب خپروي او خوب يې له سترګو تښتوي او دوی ته هغه ماتې ور په زړه کوي چې د خلافت په زرين دوران کې يې د خلفاوو لخوا خوړلي دي. نو کله چې الله سبحانه و تعالی له خپلې خوښې سره سم بېرته موږ ته خلافت راکړي، نو خپل ولي الأمر ته به د خليفه په نامه غږ وکړو، تر څو کافران ـ چې په خپلو ټول توان يې د دې لقب د له منځه وړلو لپاره هڅې کړي ـ له خپلې غوسې څخه مړه شي او هيلې يې د سراب په څېر په ناهيلۍ بدلې شي. نو کله چې خلافت دوباره قايم شي، امت به يو وار بيا د حيثيت او ځواک څښتن شي، هغه څه چې د کفارو د وېرې او رعب سبب کېږي.

اې الله! دغه ښکلې او ځلانده ورځ ژر پر موږ ولوروه!

**ژباړه: يما افغان**